سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۹/۲۷

# د ګـنــاه کــڅــوره؟

د نور مخلوق سره کار نه لرمه
خو د انسان په هکله فکر کوم
چې ولې نور وژنې د ځان د پاره
او له مرګی نه خپله ځان ساتې.
که ژوند مزه لری او خوند لری
که ژوندون خوږ وی او مرګی تریخ وی
نو ولې ځان ساتې او نور وژنې؟
زه په دی نه پوهیږم
چې ژوند د ځان د پاره
ژوند دی کنــه؟
زه په دی نه پوهیږم
چې د ژوندونه مزه په څه شی کی ده؟
خو داسی فکر کوم
چې مزه دار به وی
یوهسی ژوندون:
چې پکی کرکه نه وی
چې پکی ویره نه وی

چې وی له مینی نه ډک

چې په ژړا تیر نشی

چې سلګۍ نه وی پکی

ماته د ژوند معنی همدا بریښی.

خو که زه ژوند غواړم

د نورو د آزار د پاره

که ماته ژوند خوږ وی

د نورو نورو د کړاو په خاطر

که زه خوښی د ژوندون

د هغو نورو فریادو کی وینم

نو داسی ژوند ته:

د ژوندون نوم ورکول راته خطا ښکاری

داسی ژوندون راته د ژوند سره جفا ښکاری

داسی ژوندون راته کـخـوړه د ګناه ښکاری.

می/۲۹/۲۰۱۴

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****